مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید ۲۰۲۵/۰۹/۱۹

کابل پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانگه

# ګـــــولـــــی خـــوړلـــــــی اثـــــــر

**دپښتومعاصروهنري ادبیاتو موضوع اودهغوی**

**تکاملي مرحلي**

(۱۱مه‌برخه)

لیکوال

پوهیالی خالق رشید
دپوهنیارۍ علمي رتبې ته دلوړیدو له پاره

کابل – د ۱۳۶۴ کال دجدي ۲ نیټه


دپښتومعاصروهنري
ادبیاتوموضوع اودهغوی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## پنځم فصل

اوښتیا (انقلا ب )
پښتومعاصرهنري ادبیات د نړیوالتوب په رڼا کې
په دغه اړه باید دا ټکي ترهرڅه دمخه په نښه کړشي چي له نړیوالتوب څخه زموږموخه اومطلب هم هغه انترناسیونالستي تعبیر دی چي ګورو په دغه برخه کي زموږادبی بهیرپرکومه خوا اوپه څه شان سره روان دی ؟
زموږ دغه بحث هم په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه له سوسیالیزم اوسوسیالستی ریالیزم سره هم په یوډول نه یوډول بي ارتباطه نه دی. کیدای شی په دغه اړه داخبره هم وکړو چي په دغه بحث کي موږ سره له دي چي پرنړیوالتوب باندي خبري کوو، خوبیاهم باید پردي باورمن شوچي موږ دتیرڅیرکي په اندول په دغه فصل کي په یوڅه تنکسیا کي را ایساریږو،ځکه چي دلته په ادبیاتوکي تردیره حده مورډ ایدیالوژی پرواټ باندي رامحدود کیږو،ځکه خو زه په دغه برخه کي له خپلودرنو لوستونکوڅخه هیله کوم چي په دغه محدوده کي زموږ زماني مقطع اوبیانی اوسانسوري محدودیتونه هم له پامه ونه غورځوي، ځکه چي اوس موږدیوه واکمن ګوند د واکمنی ترسیوري اوسانسورلاندي په دغه اړه بحث کوو، ددغه ګوند په مرامي اصولواوخپرونه کي داخبره یاده شوي چي: « دهیواد د مختلفو خلکو اوقومونو دژبواوکلتوردافغانستان دملي فرهنګ د بدایی اودهیواد دهغوولایتونودخلکوداقتصادي اوتولنیزپرمختګ په خاطرچي په وروسته پاتي والی کي ساتل شوي جدي اوعملي تدبیرونه نیول کیږي) »۱(
په هرډول،که لږدغه سرلیک ته ځیرشو،دا راته روښانه کیږي چي په ادبیاتوکي دنړیوالتوب انعکاس په خپل وار له یوی خواډیره په زړه پوری مساله ده اوله بلي خوا ددغي موضوع په اړه له شوروي لیکوالوشاعرانوورهغه خوادنوري نړی لیکوالواوشاعرانوهم دغه موضوع ته پاملرنه کړي ده، چي له بده مرغه موږ په دغه اړه هرڅه اوپه خپله انترناسیونالیزم په شوروي اوشوروي سستم پوري ورتړو اوبایی یوشی بولو،په داسي حال کي چي خبره اومساله دخپل ماهیت له مخي داسي نه ده اونه باید په یوارخیزه توګه په پام کي ونیول شي. ځکه که موږ دغي موضوع ته په سرسري نظرسره وګورو،فکرکوم چي په اوسني وخت کي به موږترډیره حده ځان له سیاسي تبلیغاتوسره مل کړی وي، په داسي حا ل کي چي وړده څوموږپه دغه اړه دغه اصل ته دهنري ادبیاتوله لیدلوری اودریځه وګورو اوپه دغه اړه ترهرڅه دمخه دیوی ټولني دادبیاتو ملي رسالت، ملي ځانګړني اوپه ملي جوړښت کي دهغو ونډه او دنده په پام کي ونیسو.
پښتومعاصرادبیات دافغاني ټولني دټولنیزهویت هنداره دي، چي ونډه اودنده یي په هرارخیزه توګه په دغه ټولنه کي دخپل ملي شته والي په پام کي نیولوسره په نړیوال ډګرکي د یادوني وړدی، اوس موږ پردغه ټکي پوهیږوچي په پښتومعاصروهنري ادبیاتوپه تیوریکی لحاظ دکمیت اوکیفیت اړخ ددي وړشوی چي باید ځان دنړیوالتوب کچي ته ورسوي، زموږداوسنیوادبیاتوهیومانستی اړخ له هره پلوه نن سبا دا وړتیا لري چي په نړیواله کچه د بحث وړموضوع شي، زموږ شاعرانو اولیکوالولکه دنوري نړی د نامتولیکوالواوشاعرانوپه شان په دغه برخه کي پښتوهنري ادبیاتوته ښه اوجدي پاملرنه کړي اوپه دغه برخه کي یي دنورو ژبود ویونکواو لیکونکوپاملرنه هم ځانته وراړولي ده، داځکه چي زموږلیکوال په یوي محرومي ټولني کي دیوه لرغوني انساني تاریخي اوتمدنی ژوند استازیتوب دځان مل کړی دی، زموږلیکوال اوشاعرد نړیوالتوب په بهیرکي هم خپل ځان نوروته ښیي اوهم نورخپل ځان اوخپلي ټولني ته

--------------------------------
۱ ـ خلق جریده (۱) ګڼه، ۱۳۴۵ کال لومړی او دویم مخ.
ورپیژني، په دغه اړه د نامتولیکوال اوشاعرګل پاچا الفت دفکرتال را سپړوچي څه وایي:

یوه ورځ په یوه باغ کي ګرزیدمه
د ورمي په شان له ګلو تاویدمه
وخت دبوټو اینسودلو دباغوان وو
ښه موسم دجدو جهد د انسان وو
دغه باغ و ډیرپخوا دلته جوړشوی
خوهماغسي وځوان نه و زوړ شوی
بعضي بوټي به که وچ اویا ... شول
کال په کال به په کي نورنیالګي پیداشوه
چمنونه اوخیابان به یي بدل شو
هره ورځ به په کي جوړنوی محفل شو
یوه ونه به له بیخه ووتله
بله ونه به یي ځای کي دریدله
مګرنوم دباغ هروخت په یوه حال و
دا تغیرد ونوبوټو په هرکال و (۱)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په اوسنيونيواو مترقي ادبياتوکي نن هم هيومانيزم په خپلوټولواوعالي ارزښتونوسره مطالعه کيږي، خوديوشميرادب پوهانوپه اند دغه بهيردلويديزپه ارتجاعي ادب کې دغه ارزښت د رنسانس د دورې په انډول ډيرلږاوراټيټ شوی دی، چې عوامل يې د پانګوالی انحصاري تکلاري په ترخ کې دمطالعې وړدي، دمترقي ايډيالوژۍ پلوي ليکوال اوڅيرونکي په ادبياتوکې هيومانستي ارزښتونوته اهميت نه ورکول د انسانيت له توهين پرته پربل څه نه شي توجيه کولای يوليکوال په دغه اړه ليکي:

»ديوه سوسيالست ليکوال رسالت ترهرڅه دمخه دادی چې زموږد زمان په لويې وپوهيږي اوهغه موږاوټولني ته راوښيي- په خپلواوچتوجذابو انځورونوکی بايد دنوي اواساسي ژوند هنري اړخونه په ښه کړي،انساني کلکه اوژوندی ښکلاچې زموږ اوزموږ دهرې ورځې د ربښتينوقهرمانانورامنځ ته کونکي ده بايد دننداري ډګرته راوباسي- داسي انسان بايد راوښيي چې نه يوازې بايد په ځان بلکې پرهغه څه چې دده په مخ کې خنډ شوي برلاسی شي. داسي انسان چې دهغه دخلاق دريځ ترڅنګ په ژوند کې تيروتنې، ماتې، تراژيدۍ اوفشارهم ملګري دي، خو له دې سره سره يې بيا هم انساني سرنوشت لړزونکی دی ځکه چې زموږپه مقابل کې ديوه سوسيالست ټولنيزشخص دظاهري څرګندوني اواخلاقوځخه پرده پورته کوي اوهم له ملګرتيا- ټولنيزوالی دکارپه وړاندې دسوسيالستی چلند اوهم دنوې اوخپلواک انسان دټولني چې په عين حال کې هيوادپال او انترناسيونالست دی سره سروکارلري، ځکه چې هغوی خپل ژوند اوخپله راتلونکي له ګډ ونړيوالواهدافوسره يوځای دسوسياليزم اوکمونيزم پرلوردکارګرې طبقي له انقلابي مخکښ والي سره تړي» (۱)

له پورتني اصل سره په اړيکي کې داهم بايد ووايوچې نړيوالتوب دنړۍ دبيلابيلوولسونوپه ادبي پانګه کې نن سبا ديوې تلپاتي منارې په شان په علمي اوعملي توګه د څيړلووړموضوع شوی دی، چې مهمې اوځانګړې دندې په کې د ولسونواوملتونودهمکاريولړۍ اودهغې کلکوالی دی، داځکه چې ليکوال اوشاعرتل يوازې بايد دځان له پاره نه څه ووايي اونه يې وليکي، کله چې په يوه ادبي بهيرکي دغه پوښتنه ترپوه حده ځواب ومومي، نوبيا کولای شو ووايوچې ليکوال اوشاعر هم په يوځانګړي ملي اونړيواله ټولنيزه جغرافيه کې هم ملي ځانګړتيا لري اوهم نړيواله،چې دخپل کمال اوهنرپه ځواک سره دخپلې تجربې

---

۱ ـ الفت ، غوره اشعار، ۱۳۳۴، کابل (۸۸)مخ

۱ ـ مريم جاويدان (ژباړه) درباره هنروادبيات، دشوروي اوچکوسلواکي ليکوالو مقالي ، ۱۳۶۴ ۱۱۶مخ

اوتخيل په ځواک سره له ملي ارزښت اوداېرې ګام پرهغه خوا ږدي اوخپل شته والي دخپلې هنري وړتيا په زورسره په نړيوال بهيرباندي ورګډوي. صاحب تباروف دشوروي ادبياتودنړيوال دريځ په اړه ليکي:

»شوروي کثرالمله ادبيات که له يوې خوا ملي بهيردي، نوله بلې خوا يې دهغوګډوملي اوانترناسيونالستی ادبياتو ځانګړتيا هم موندلې

ده، اوله دريمې خوا دنړۍ دسوسيالستي سيستم دهيوادوپه ادبياتوکي يې چې هغه نوې ادبي سيمه بللای شوو هم مهم اود پاملرنې وړمقام ترلاسه کړی دی، يوازې دمضمون اوشکل دايجادي ميتود اواسلوب له مخې دشوروي کثرالمله ادبياتوپه دايره کې دهروملي ادبياتوآثارنه يوازې زموږدهيواد ددې اويا هغه اولس يا سوسيالستي هيوادوپه ادبياتوباندې اغيزې کوي، بلکې دنړۍ دادبياتوپه خزانه کې خپله ونډه هم ترسره کوي. د لس ګونوادبياتوآثاردګورکي،مايکوفسکي ،شولوخوف، عيني، نيولي ترتورسون زاده، ايتماتوف، بيکوف، ميشرېلايتيس، حمزه توف، بونډايف، دمباد زه ، ترمومن قناعت پورې ددې ادعا شاهدان دي، دکمونستی جوړښت له تجربې سره د ادبي- بديعي مجلودايجاد د اړيکوپه باره کې، د شوروي اتحاد دکمونست ګونددمرکزي کميټې د ( ۱۹۸۲) کال د پريکړه ليک له مخې اديبانوته بلنه ورکړه شوې چې له يوې خوا دمتحده اوخودمختاروجمهوريتونود ادبياتوتجربې په بشپړه توګه زده کړي اوپه خپلوهستونوکي يې تطبيق کړي...» (۱)

اوس خبره داده چې داډول اصول اوځانګړنې ترکومې کچې په پښتو نظم اونثرکي څومره دتطبيق، څيړنې، مطالعې اوپاملرنې وړدي ؟

الف : د نثرپه برخه کې ،

په پښتواوسنيوهنري ادبياتوکې هم دنړيوالتوب مساله يواړخيزه مساله نه ده داسي چې بايد دکوم نظم اونظام سره داړيکوپرلامل به رامنځ ته شوې وي، زه په دغه پيل کې داخبره دخپل لوستونکي ترغوږځکه تيروم چې پښتوادب ديوملت ديوهيواد اويوه داسي قام اوژبې ادب دی چې دنړۍ زياتره ملتونه يې دخپل خودارادیت پرلامل پيژني اوستاينې شوی دي. دنړيوالتوب اصل هم زموږپه معاصرادب کې ديوې ايډيالوژۍ ترسيوري لږلوړاوپرهغه خوا بايد وارزول شي، له بده اويا له ښه مرغه چې زموږپه دغوشپو ورځوکې نړيوالتوب دګوډ ملا پښه شوي چې يوازې په يوه پښه اويوه خوا دحرکت پرلورمخ په وړاندې په خپل افراطيت سره روان دی. په پښتومعاصروادبياتوکې يوژانراويا يوادبي ډول چې نن سبا هم د ځرګندې ودې پرلور خوځيږي هغه ته ادبي ( سفرنامه يا سفرنامې) ويل کيږي، ددغه ژانرلومړنی منظمې نښې له خوشحال خان اودهغه له عصرسره تړلې دي، چې يوه بيلګه يې ددغه نامتواونابغه ليکوال (سوات نامه) يادولای شو،خودلته چې کومې خبرې ددغه ژانرپه اړه لروهغه دمعاصروسفرناموپه باره کې دي چې زياتره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولۍ

يي په نثركي زمونږ په مخ كي پرتي دي چي په دغه برخه كي هم مخكښ ليكوال حمزه شينواری، صديق الله رشتين اونور يادولای شو.
دلته زمونږ له موضوع سره اړونده يوه سفرنامه چي مياكبرشاه ليكلي هغه د( آزدی په تلاش) سفرنامه ده چي په اوسنيوپښتوادبياتوكي يي تراوسه پوري ديوې پخوانۍ اومهمي سفرنامه ځای دځان كړی دی، دغه اثردسفرنامي دنثرليكني ټولي ځانګړني له ځان سره لري، د زريني ځانګي ليكوال (حبيب الله رفيع چي ددغه اثرد ليكلوپرمهال يي نوم نه شوای ليكل كيدای) ددغي سفرنامي په اړه يواوږد بحث لري چي ځيني برخي يي دلته راليكو:
»په نوي هنري طرزد پښتولومړنی سفرنامه خوږه – په فن پوره - پخه اوبوږنونكي سفرنامه هم ده... دميان اكبرشاه د آزادی په دې اوږده تلاش كي ډيري حيرانونكي خاطرې خوندي دي، اوخصوصاً په

----------------------------------------
١ ــ صاحب تباروف – په شوروي ادبياتوكي ملي اوانترناسيونالستي مساله، زيری (اخبار) ١٣۶۴ كال ١۴- ١۵ ګڼه
ډيرخواږه اوهنري نثركښل شوی دی... د آزادی په تلاش ديوولسم ټولګي ديوه حساس زده كونكي دپاك احساس نه زيږيدلی تلاش اودسفرهغه حيرانونكي اوپه زړه پوري پيښي دي چي په ډيروبرخوكي د افسانوي حيرانونكوپيښو سره ورته والی ښيي، داځوان ميان اكبرشاه دپيښورداسلاميه كالج ديولسم ټولګی زده كونكی دی اووخت ١٩١٩ كال دی.»
( افغان ياد دمقالومجموعه ١٣۶٢كابل ٨٧- ٨٨- ٨٩ مخونه)
كه چيرې دغه سفرنامه لږپه ځيرسره وګوروا ويې لولو، په دغه سفرنامه كي ليكوال دمختلفو هيوادو اوملتونودخلكوله ټولنيز- سياسي
اونوروحالاتوځخه په زړه پوري عكاسي كړي ده، كيدای شي په طبعي توګه ددغه اثرپه نړيوالي اړخ باندې ډيري خبري وكړو، هسي خوزمونږ معاصروشاعرانواوليكوالو دنړيوالي همدردی اوخواخوږی له مخي دبيلابيلوملتونود ژوند دحالاتوپه زړه پوري هنري انځوركري
كړي ده، خوپه نثركي بيا دهمدغي ليدني اوكتني او همداسي يوځركندي خواخوږی لړی دميان اكبرشاه په دغه اثركي په خورا ښوادبي نزاكتوسره سربيان شوې ده، په دغه اثركي ترهرځه دمخه د شوروی د ١٩١٧ كال داكتوبردانقلاب له بريالیتوبه را په ديخواد شوروي خلكو د ژوند، سياست، اقتصاد، اونورتخنيكي پرمختګونوپه باره كي په زړه پوري هنري يادوني لولو، زما په نظردغه سفرنامه دخپل جوړښت له مخي ديوې سياري اوګرزنده سينماحيثيت لري چي ليكوال هرڅه، هرپيښه په خپلوسترګوليدلي او هغه يي په هنري اوادبي مهارت سره ليكلي اوثبت كړي ده. ميان اكبرشاه د شوروي اتحاد ددغولاندې ښارونولكه ترمذ، بخارا، تاشكند، باكو، ماسكو، پتروګراد، خاركوف اونوروپادونه او هلته رواني پيښي په هراړخيزه توګه تشريح كړي دي، دشوروي اتحاد دنويوانقلابي هلوځلوپه اړه په دغه اثركي ډيري مهمي ليدني كتني اودهغوارزوني ځای پرځای ليكل شوې دي، دبيلګي په توګه دشوروي اتحاد دنوي اقتصادي پاليسی او همداسي يولړاخلاقي مسايلوپه اړه ليكي چي:
»په ټوله مهذ به دنيا كي دبداخلاقي مركزونه قايم دي، صرف انګلستان، فرانس، امريكه اونور يورپي ملكونه په دي لعنت بدنام نه دی، بلكي ايشيايي ملكونه ايران، جاپان، هندوستان هم برسربازار د زنانه عصمت فروشي كوي، د ډيروخلكوداخيال دی چي عصمت فروشي زنانه دمستی نه كوي، خود روس نوي اقتصادي پاليسی له ثابته شوه چي زنانه عصمتي فروشي دمجبوری نه كوي، دنوي اقتصادپاليسي نه وطن ته ډيري فايدي هم اورسيدي،تجارت په كي بيا شروع شو،دخوراک، څښاک د ځيزونونرخونه زرترزره را پريوتل) «...١(
په دغه سفرنامه كي ددغه مهال ډيرومهموسياسي سيمه ييزومسالوته هم اشاره شوې ده، په دغه لړكي ليكوال دهند له خلكوسره دانګريزي ښكيلاک په وړاندې د دوی له مبارزې اومقاومت څخه ننګه كړې په دغه اړه دا مستنده يادونه هم شته چي د شوروي دانقلاب مشرلينن دهند خلكواوانقلابي مبارزين ددغي روا مبارزې په خاطرهڅولي او د دوی دمبارزوستاينه اويادونه يي كړې ده. چي په دغومبارزينوكي ځرګند مثالونه صنوبرحسين كاكاجي اوخوشحال كاكاجي ديادوني وړدي. داچي د آزادی په تلاش ليكوال په خپله يوانقلابي و، دی په شوروي اتحاد كي دانقلابيونود دريځ اوپه هغه كي هيواد كي د دوی دمبارزې اوچلند په اړه ليكي:
»بيګم رايي اوخنديده:ځماتورزنوشاځلموپه خيرراغلئ،ما تاسو يواهم كاردپاره راغوښتی يئ، يولوی اومعزرميلمه به هم ستاسي ډوډی كي شامليږي، اوهغه ملګری زينيوف د پټرګراد حاكم دی، چي تاسوپي پيژنی، زينيوف د دنيا د دريم بين الاقوامی صدروو سويت كي لينن پسي سړی وو، چانه پيژندو، بيګم رايي يكدم غلي شوه اوموږته يي نيغ نيغ وكتل اوبيا اوخنديده،موږ هم يوه بل ته وكتل، موږپوه شوو چي څه چل

----------------------------------------
١ ــ ميان اكبرشاه ، دآزادی تلاش پيښور ١٩۶۴ (٣٢٩) مخ
دی،څه خاص رازدی، موږ دمعمولي ښځي سره خبرې نه كولي، بيګم رايي دبين الاقوامي شهرت د سړي ايم. ايس. رای ښځه وه، اوپه دريم بين الاقوام كي په اهمه عهده فايزه وه، په اصل كي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكي په ځير و لولئ

امریکۍ وه، انقلابي وه، رایی هم ددنیا مشهورانقلابي وو، ځکه دهغه سره یې واده کړی وواودهندوستان دآزادۍ حاصلولود پاره یې خپل ژوند وقف کړی وو، د بیګم دخبرو دطریقې نه معلومیده چې مهم معمولي نه دی، بیګم خپله خبره جاري کړه:

»ګورئ ملګرو،موږ انقلابیان یو، اوترکومې چې وطن آزاد شوی نه وي نوموږدمه نه شوکولای، تاسو ډېرتکلیفونه تیرکړي دي، په
خپلوپښود افغانستان په اوچتوغرونوراوړیدلی یئ، لوږې، تندې موتیرې کړې دي،د ترکمنانودلاسه چې کوم تکلیفونه تاسوبرداشت کړي دي،هغه دهندوستان انقلابي تاریخ کې به په زرینوټکولیکلی شي، تاسوبیا بیا مرګ لیدلی دی اوبیاهم ژوندي یئ، ستاسودا ژوند ددې دپاره دی چې خپل خوږ وطن آزادولوکې یې قربان کړئ، تاسوځلمي یئ، دوطن سترګې تاسوته دي، تاسوته یې امیدونه دي، تاسوبه هغه مایوسه کوئ نه ! موږ دهرې قربانۍ د پاره تیاریو،زموږ ژوند د وطن د آزادۍ دپاره وقف دی، موږدوطن دعزت د پاره سخته نه کړو،موږ ورله جواب ورکړو) «...۱(
همداسې په دغه مهم اود پاملرنې وړاثرکې د ایراني ټولنې په باره کې هم ډېرومهموټکوته اشاره شوې،ځکه چې وطن ته دلیکوال دسفرګذر له شوروي وروسته ایران ته هم شوی اوهلته یې دهغه هیواد دخلکواو ایراني هم فکرانودهرډول همکارۍ اوخواخوږۍ یادونه هم کړې ده.
په هرډول دکټ مټ مسایلوپه شان یادونې چې دنړیوالتوب یواړخ موږ ته را څرګندوي، دهنري نثرپه نورو ډولوکې هم ترسترګوکیږي، خوداپوښتنه چې د میان اکبرشاه سفرنامه په دغه برخه کې ولې په پیل کې راغله، مطلب دلته دلومړیتوب اوقدامت دی ځکه چې زموږپه معاصرادب کې داډول لیکنې له میلادي شپیتموکالورا په دیخواپه سستماتیکه توګه ترسترګوکیږي، دآزادۍ په تلاش لیکوال هم په خپله مقدمه لیکي چې:
»اګرچه د آزادۍ تلاش ما په کال ۱۹۲۳ او ۱۹۲۴ کې لیکلی ووخو ترځلوینت کاله مې چاپ نه کړی شو«...
په دغه اړه اوس په روښانه توګه داخبره کولای شولکه چې یوشمیرپردې باوردي چې پښتوادب ته داډول افکارپه افغانستان کې د کیڼ اړخوګوندونودځوپایله ده،پورتنی اثرداډول طرحه سمه نه بولي، اونه باید په دغه اړه هرڅه خوشبینانه په پام کې ونیسو،دابهیرپه پښتومعاصرادب کې دشلمې پیړۍ ترنیمایی ورهخوا هم مطرح شوی،خونه په دغه سازاوآوازچې پرخپله خبره کلک ودریږوچې ګواکې ( زما چرګ یوه پښه لري) په دغه اړه دپښتونخوا دمترقي اونسبتآ مترقي سازمانونو:« نشنل دموکراتیک پارتي، پاکستان نیشنل پارتي، پاکستان پیپلزپارتي، جمعت العلمای اسلام، مسلم لیک، جماعت اسلامي، مزدورکسان پارتي، پښتونخوا نشنل عوامي پارتي.»(۱) خبره هم دڅورې پوښتنې وړده چې دوی ترکومه حده مترقي اونړیوال حثیثیت لري، د دوی هلې ځلې هم په دغه برخه کې دافغانستان دخلق دموکراتیک ګوند ترهڅولومړیتوب نه لري اونه موږویلای شوچې نړیوالتوب اودغه بهیر ددغوسیاسي ډلواوتمایلات اغیزو،نه نړیوالتوب،هغه هم په هنري ادبیاتوکې یوطبعي بهیردی چې دملتونواوخلکودکلتوري،اقتصادي اوتجارتي اوکله کله مذهبي اړیکو پربنسټ رامنځ ته اوپه ادبیاتواوادبي بهیرونوکې طبعي وده کوي،چې له بده مرغه موږدغه اصل ته دیوې محدودې سیاسي ډلې اویاهم ایدیالوژۍ له دریڅه ورکتلي دي، همداده چې تراوسه زموږتعبیرله دغه بهیرڅخه هم هغه دسوسیالستي تمایلاتوله پولې نه دی اوښتی ځکه خواوس موږ په دغه برخه کې په فارسي دري اوپښتو دواړو ژبو کې له لسو زیات لیکوال نه لرو چې دوی سوسیالستي تمایلات لري.

---------------------------------------------

۱ ـ میان اکبرشاه ، دآزادۍ تلاش پېښور ۱۹۶۴ (۴۶۳) مخ
ځکه خوبې دمعاصرافغاني ادب دنثرپه برخه کې یوازې د تره کی ، اسدالله حبیب، افغانپور، کریم میثاق، ببرک ارغند، اکبرکرګر، اویوشمیرنورو نثري لیکنې لرو.
لنډه داچې په دغه برخه کې باید زموږد تعبیراوتحلیل دایره دومره لکه چې موږهغې ته یوازې دګوندیتوب اوایدیالوژیک توب له سترګیو ګورو اویا ورته فکرکوومحدوده نه وي بلکې باید دیوه پراخ نړۍ لید ترسیوري لاندې وي.
په هرډول ، دهمدغه ټکي په پام کې نیولوسره باید ددغې لیکنې لمنه راټوله کړو اووایوچې په ادبیاتوهغه هم په هنري اوسنیوادبیاتوکې نړیوالتوب، یوپراخ بهیردی چې باید له نړۍ اونړیوالوادبیاتوسره په اړیکوکې په پام کې ونیول شي، اوس چې زموږ دټولنیزژوند دروازه یوازې پریوه خوا (شوروي) ورخلاصه ده، دا
ددغه بهیریوه ډیره وړه برخه ده چې کیدای شي دا دروازه ترډیرو پورې زموږ دهیلواوموخو وروستی تم ځای نه وي.
ب : د شعرپه برخه کې ،
لکه چې په نثرکې مواشاره وکړه،دغه موضوع په پښتومعاصر شعرکې دنثرپه انډول یوڅه په پراخ اونړۍ وال لید سره مطرح شوې ده. همدا ده چې اوسنی پښتوشعراوشعري بهیرد نړیوالې خواخوږۍ اوپیوستون په برخه کې بې توپیره نه دی پاتې شوی بلکې دغې موضوع ته یې هم خپله غیږه په پراخه کچه پرانیستې ده، په موضوعي لحاظ د پښتواوسنی شعرله نوښتی اړخونوڅخه یوهم دغه اړخ (نړیوال هڅون) دی.
په دغه اړه یوه خبره زما په نیمګړې نظرداده چې پښتوشعراودغه شعري بهیرلکه څنګه چې تراوسه په یوه تنګسیاکې راګیردي نورپه دغه اکراوحالت سره نه پاتې کیږي، هسې چې پښتودخوشحال خبره تراوسه بکره پرته ده، همداسې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يي شعراونثرهم د كره كتني په تله كي ناتللی پاتي دی، ځکه چي موږتراوسه هم لادا ځواکمني اوځيركي نه لروچي ډيښتوژبي د چټکي ودي پرچټک بهيربانديپوه شو، ځکه چي داکارتعليم اوزده کړه اوترټولومهمه تجربه غواړي، هغه چي موږلاهم ورته ټکني يوځکه چي اقتصادي ناتواني، فرهنګي ناخبری اوسياسي څيرکي نه لرل موپه مخ کي خنډونه پراته دي، هغه ايراني ليکوال رښتيا ويلي ول چي:

»امريکايانوپه خپل بې مصرفه پيپسي کولا باندې خپل جفرسون، واشنګټن او روزولت چي داهريوپه نړيوال انډول سره يوهم لوی سړي نه دی پرموږمنلي خوموږپه خپلونفتوچي دنړی ډيري لري لري ځايونوته يي ليږو، نه دي کړي چي خپل لوی شاعران لکه حافظ – هغوی ته چي زموږ تيل اخلي وروپيژنو، ددې ټکي لامل يوازي په دې کي دی چي موږتراوسه لاخپل فرهنګ سم نه دی پيژندلی اودلويديزدمصنوعي نانځکي په وړاندې موځانونه بايلولي دي اولويديزهم هڅه کړي چي موږ په خپلواقتصادي شتوسره بي فرهنګه کړي...»(١)

پورتنی خبره له هغي رښتيا څخه سرچيني پورته کوي چي موږ يي په رښتياهم په ظاهري زرق وبرق باندي په رڼا ورځ غوليدلي خولاڅه کوي چي ان ړانده اوکانه شوي يو، دهمدغه اصل په رڼا کي موږبياهم دخپلوفرهنګي هستيو په تيره بيا شعرپه اړه چي څومره يي نړيواله عکاسي کړي، دا ادعا کولای شوچي زموږدشعرکه په کلاسيک عصرکي واوکه په معاصرکي دی، دغي موضوع ته خپله سينه غوړولي اوله هغوترخواوخوږو څخه چي دنړی په هرځای کي يي اوريدلي انځورګري کړې ده، په پښتواوسني شعرکي نړيوالتوب يا په اوسنی نومونه د (انترناسيونالیزم) اصل له سياسي لارې راننوتي اصل ښکاري، چي کيدای شي دابنه ډيره دومداره نه وي، زه نه غواړم چي دغه اصل ته دسياست اوايډيالوژی له خوه (کمينه) ډيراهميت ورکړم، بلکی يوازې دغي موضوع ته د انسان دوستی اوانساني خواخوږی له سترګيواودريځه

---------------------------------------

١ – رضا براهني، طلا درمس دکابل چاپ (١٨) مخ

ګورم، چي په هغوکي موږکولای شوهرڅه په يوه پراخه دايره کي هم وګورواوهم يي انځورکړو، سره له دې چي يوشميرپوهان په ځينوټولنولکه شوروي اونوروکي معاصرادبيات له معاصرسياسي ژوند اونظام سره تړلي ارزوي چي داکارديوه دوامداره ادبي بهيرځرګندونه ټکنی کوي. راځي دلته يوه بيلګه په ګډه سره ولولو:

دالجزاير شهيد ته

د آزادی شهيده د آبادی شهيده

ډيراحترام واخله نوی پيغام واخله

دخپل ناموس دپاره تا مال اوسر ورکړ

داستعمار ګولی ته دي خپل ټټرورکړ

دشهيدانوخانه ای دنرانو خانه

سلام دقام واخله نوی پيغام واخله

ای د وطن دليلا په وينو سور مجنونه

ستا سروجامونه ځارشه دجنت سره ګلونه

د قام ننګياله ځوانه د سيالو سياله ځوانه

ډيراحترا واخله نوي پيغام واخله

د ظالمانو د زړه کلا دي وړچقوله

د استعمار شهيده دنيا دي وړچقوله

ظالم برياد و اخله وطن آزاد واخله

واخله انعام واخله نوی پيغام واخله

د پښتنو د دنيا د ميرنو زلمو نه

دباباجان دلښکردسرولمبو زلمو نه

دعقيدت ګلونه دمحبت ګلونه

په احترام واخله واخله انعام واخله

که چيري عين موضوع ديوه غزل پرداز شاعرپه ليد کي چي زموږله موضوع سره اړوند يي تصورکړی وګورو، هلته هم دا راته ځرګنديږي چي دپښتوادبياتوپه ادبي بهيرکي دغه اصل دملي ادبياتودتکاملي ودې محصودی نه داچي له سياسي اوياهم داوسنی ورځي په نرخ اهميت ورکړو، ځکه نودغه شعرچي دالجزايري جميلي دميرانی يوښکلی انځورراکوي، ديوې ښکلي انترناسيونالستی بيلګي په توګه دپښتوشعرپرهسکه شمله باندي خپله ښکلا اوځلا کوي:

داد نوي خيالی کلي، داد نوي نظراور دی

نه پيښي دبلبل غواړي نه نخرې د پتنګ غواړي

دابانړه نه ديده نه دي په زړګونه ننووزي

داد سترګوحيا اخلي داد سترګونه جنګ غواړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چي ژوندون عذاب کړي دهغه سخت زړي نه ده
بس دميني زولنه ده غفلت نه غواړي شرنګ غواړي
داد وخت نه نه يريږي هرمشکل ته غاړه ووځي
ټوله ټاله بيداري ده ګرنګوکي ګرنګ غواړي
دا کعبه د زلمي زړه ده چي سجدي تري نه بوږنيږي
---------------------------
۱ ـ اجمل ختک د وخت چغه ، کابل ۱۳۶۵ (۲۶۱) مخ
دانتګياله جميله ده دا خبرې د ننګ غواړي
د ژوندون دسترګو نور دی د ړندوسترګونظردی
زما سترګي پري خوږيږي، يوتصويردی يودلبر دی (۱)
په ادبياتوکي دنړيوالتوب اوانترناسيوناليزم په اړه د لونا جارسکي څرګندونه هم په زړه پورې ده چي وايي: « بشريت بې له ځنډه دکلتورانترناسيونالستي کيدوپرلاره روان دی، ددې خبرې کول ناشوني نه دي چي ملي اساس لري،بې انتها اوعجيب نه دی بلکي ابدي پاتي کيږي اما انترناسيوناليزم په هيڅ حالت کې په ټوله انساني سمفوني کې ملي آهنګونه له منځه نه وړي بلکي يوازې شتمني اوآزادې نغمې په نظرکې لري اوبس» (۲)
دهمدغي يادونې په لړکي خبره دملي ادبياتواودهغود ونډې په اړه ديوې اړينې ملي مسالې په توګه مطرح کيږي، د سائل شعر يې يوه ښه بيلګه ده، داچي نن سبا زموږدهيواد برخليک له ستونزوسره مخامخ دی،
دغه مفهوم ته زموږپه اوسنيوشرايطوکي ايډيالوژيکي رنګ ورکړشوی،ان چي دغه موضوع هم په همدغه غوبل کې مسخه شوې اوله خپل پراخ اوعالي مفهوم څخه يوې محدودې تنګسيا ته راليږدول شوې،کاپي شوې اوپه ګونډي رنګ کې مويې اصلي رنګ په مصنوعي خم کې رنګولی دی : « لکه چي څرګنده ده داکتوبرترانقلاب پورې دادبياتوناسيونالستي خصوصيتونه زياتره دمضمون ـ کرکتر جوړولود نموني اوسلوک ايجادي اوشعري لاروچارو دادبي ژانرونو- انواعو اوداسي نوروکي څرګنديدل. دسوسياليزم په دوره کې پردې سربيره ډيرنوي خصوصيتونه علاوه کيږي، ددې خصوصيتونوڅخه د اوسيدونکو- کثرالملله ترکيب په واسطه يوبل ته په خپله دهغوی واسطه دکلتوري- ادبي اوبديعي
شتمنيوويش نه يوازې دټول شوروي اتحاد په دايره کې بلکي په هريوه ځانګړي جمهوريت کې داوسيدونکودکثيرالمله ترکيب په دايره کې له هغې جملي يوپه بل باندې دهغواولسونود ادبياتواغيزه ګڼل کيږي) «...۳(
په دغه برخه کې د ايډيالوژۍ اودهغې دتحميل خبره په پام کې ده، اوداسي اټکل کيږي چي زموږپه معاصرادب کې هم بايد دشوروي د بيلګې په شان وي چي دغه کاراوداړول نظريات زموږدليکوال اوشاعراودهغه هغه ژمني چي هغه نړيوال انسانيت ته درناوی اوپه نړيواله کچه دغه انساني پراخ مفهوم ته پاملرنه ده له ښکيل اوزندۍ کولوسره مخامخ کوي، دحيرانتيا خبره خولاداهم ده چي دنړيوالتوب ټول وياړنن سبا له لايق اوبارق اوهم کله کله هم دستګيرپنجشيري له نومونوپرنورچا باندې نه اطلاق کيږي اونه اهميت لري، په داسي حال کې چي د دوی شعرونه د کلمي په ربښتني معنا زموږ په ملي ادبياتو کې ددغه لوی ارزښت بشپړاستازيتوب نه شي کولای.
په هرډول بياهم زما ټينګارپردې دی چي نړيوالتوب له نړيوال انسان سره، دهغه له ستونزو،غمواوتراژيدی اوآن برياووسره دخواخوږی په معنی راغلی ادبی اوهنري مفهوم دی چي له بده مرغه موږدغه بهيرله خپل اصلي تګلوري څخه بې لاري کړی دی، يوشميربيلګی يې دلته په ګډه سره لولو:
-------------------------
۱ ـ رحمت شاه سائل، د لمبوپه سيوري ، پيښور ۱۹۸۵ (۷۲) مخ
۲ ـ زيری اوونيزه ، علومو اکاديمی خپرونه، ۱۳۶۴کال (۱۵-۱۴ ) ګڼه، (۴) مخ
۳ ـ زيری اوونيزه پورتنی ګڼه ، (۴) مخ
لکه بندي دجيلخانې نه خپل خپلوان وشړي
يا يوه ځاله کې بچيانونه مرغان وشړي
يا مساپردکوم مسجد نه طالبان وشړي
ياکوم بادارله خپلې ځمکی نه دهقان وشړي
په داسې توګه فلسطين نه عربان ووتل
لکه مزدور دچوک په سرکي مزدوري لټوي
يا وچي شونډي دچا پيټي جوالي لټوي
ياکومه کونده په کورو زاړه کالي لټوي
ياد مکتب جامي ګارګرزوی ته سوالي لټوي
په داسي شان آوارګان د فلسطين خواره دي .(۱)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

يادا بيلګه:
په زړه کې مې له درده فريادونه نه ځايېږي
ځان اچوم څپو ته نور جرونه نه ځايېږي
زموږ سينې دظلم په خنجر سورۍ سورۍ دي
په دې زخمي سينوکې نور زخمونه نه ځايېږي
لښتي دخپلواوښکوبه بحرونوته ورسم کو
په غيږه د لښتې کې توپانونه نه ځايېږي
په سرو لمبوکې لامبي د ويتنام غښتلي خلک
د وينوپه تالاب کې خوخوبونه نه ځايېږي
مزدوره ماتوه يې، سوځوه يې ورکوه يې
د تا په مړوندو کې ځنځيرونه نه ځايېږي
دا څوک وايي چې دام دی، تور تلک دی اوکړۍ دي
په اورد انقلاب کې توردامونه نه ځايېږي
وردانګۍ په زړه دنيا بې مزده مزدورانو
دی کارکې نوربې ځايه تدبيرونه نه ځايېږي
زړه دنيا که ورانه دا زړې ککرې ماتې
په دې زړو ماغزوکې نهضتونه نه ځايېږي
ګريوان ته يې لاس وړه چې دا څښتن د اسيرانو
وسله په ځمکه ږدي نور تېنګارونه نه ځآيېږي (۲)
------------------------------------------------
۱ ـ زړه ډمه ، کابل ۱۳۵۸ (۱۷۱) مخ ( شاعراوس په زندان کې دی اوپرنامه يې کلک بنديزدی)
۲ ـ سليمان لايق ، يادونه او درمندونه ، کابل ۱۳۵۷ (۶۵) مخ

پايله:
که چيرې دغه علمي اصل ته چې :« دادبياتوعلم هغه علم دی چې دهغوهنري آثارو د ودې قانونمنده پروسه څيړي کومه چې په هغوکې معنوي ژوند اودخلکوټولنيزحالات په هنري څيره اوانځورونوکې بيا ن شوي دي«.
په ځيرسره وګورو نودا بايد ومنوچې په عمومي لحاظ دختيزاوپه ځانګړي توګه پښتوادبيات دنوروپه اندول ډيرورسته پاتې دي.ځکه هغه ادبي اوهنري انکشافات اوهستونې چې په لويديزومعاصرو ادبياتوکې دشکل اومعناله مخې ترسترګوکيږي، هغه په ختيزوهغوکې ډيرلږاوهغه هم ډيرې وروسته ترسترګوکيږي. همدا لامل دی چې په لويديزکې ديوې نيمې پيړۍ په ترڅ کې بيلابيل ادبي اوهنري بهيرونه، ژانرونه اوسبکونه رامنځ ته شول چې اغيزې يې ورو وروختيزته هم راوغزيدې،خونه په بشپړه توګه ځکه چې ادبيات په خپله ديوې ټولنې د هراړخيزې ودې هنري هنداره ده،څومره چې يوه ټولنه وده کوي اوياد ودې په حال کې وي، ادبيات يې هم په څنګ کې د وړتيا تګلاره نيسي، خوله بده مرغه چې زموږټولنې اوس نوې د ترقۍ پرلورور مخه کړې ده، داچې کله به خپل طبعي تکاملي پړاو بشپړوي، لاهم څه نه شي ويل کيدای،زموږټولنيزبرخليک همداګړۍ جګړه ګواښي، داسې چې دزماني يولوی ځواک په کې ناحقه راښکيل
دی، دهغه په وړاندې چې دم ګړۍ څه ويل دسخت عکس العمل له ځان سره لري،ځکه خوورړاندوينه په ډيرنږدې وخت کې ګرانه ايسي...
ما دپښتومعاصروادبياتوپه اړه خپله خواري وکړه،يوشميرخبرې مې داسې په ګوته کړې چې دويلوله پاره يې د زغم کنډولی دم ګړۍ ډيرتنګ دی، زما لاربنود استاد په دغه برخه تل همدايوه خبره کوي چې دمعاصرادب په اړه څه ليکل ظاهرآ آسانه خبره ښکاري خوپه دغو حالاتوکې چې موږ واقع يو، بيا ډيره آسانه خبره نه ده. ځکه خويې ټينګاردادی: «چې هرڅه ليکې وشه هڅه کوه چې دسرکاري غومبسوپرنويوځالودې دقلم څوکه ونه لګيږي. ځکه خوډيرې خبرې داسې هم وې چې دهغود ويلوله پاره هم اوس مهال سړه سينه نشته«...
په هرډول، پښتومعاصرادب اودهغوڅيړنه په خپل ذات کې يوپراخ اوپه عين حال کې پيچلی بهيردی، داځکه کوم تمايلات چې په افغانستان اوپښتونخوا دم ګړۍ ترسترګوکيږي، داپه خپله يوه داسې موضوع ده چې بايد په ژورليد سره څيړل شوې وای خوله بده مرغه چې زه داوسنيوحالاتوپه پام کې نيولوسره پردې ونه توانيدم چې دغه دځمکې اوآسمان توپيرونه دلته يويوخپلوڅيرونکواولوستونکوته ورپه ګوته کړم، ډيرداسې ټکي شته چې هغه په افغانستان کې زموږله پاره په فني اوهنري لحاظ نا آشنا دي، دپښتونخوا ليکوال زياترپه تخليقي برخه کې زموږترليکوالومخکښ اونوښتګردي، ځکه هغوی ترموږپه تيره بيا اوسنيوحالاتو کې په يوه نسبتآ ازاده فضا کې هستونې کوي، موږتراوسه چې په هيواد کې موپردې ځواکونه په منډو رنډو( جګړواو وژنو) باندې اخته دي، يوازې له روسي ادبياتوپرته دنورو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ادبیاتولوستلوچانس نه لرو، ځکه خوزه مخکي له مخکي خپله نیمګړتیا په دغه برخه کي له تاسوګرانولوستونکوسره شریکوم، ځکه معاصرادبیات داسي څه نه دي چي سړي دهغود ودې په وړاندې پروروستي تم ځای ودریږي، ځکه دابهیرتراوسه هم لاسم پیل شوی نه دی، دا به څوانیږي، وده به کوي اود پخوالي دموسم وروستی څوکي ته به ځان رسولي، وګورئ د روښتیا اوزموږ د دوري ترمنځ څومره توپیررامنځ ته شوی دی؟ همداسي یوه ورځ داسي هم راتلونکي ده چي زموږ اوزموږد راتلونکوترمنځ به بیا تردي هم زیات توپیرونه، بري او نوښتونه رامنځ ته کیږي. دبیلګي په توګه موږپه افغانستان کي تراوسه داسي لیکوال نه لروچي دمهدي پاچا په کچه لنډي کیسي ولیکي، د راحت اوراوروسته لیکوالوپه شان ناولونو ولیکي، په داسي حال کي چي موږدم کړی د ناولونولیکلوپه هیواد اوشرایطوکي ژوند کوو،موږپه هم هغوشرایطوکي ساه وباسولکه چي شولوخوف اوچنګیزایتماتف په کي ایسته، دهغوی آثارولویې نړیوالي جایزې وړي اوموږ تراوسه هم نه یوتوانیدلي چي زموږ پرژوند باندې دپرتي خپسکي توره یا سره څیره په یوه ناول کي نړیوالوته ور وښیو...
په هرډول دا زماد لومړئ علمي رتبې اثردی، په دغه اړه چي په ترڅ کي یې ما دلومړي ځل له پاره د معاصروادبیاتوپه دریونومونو( روښانتیا، ویښتیا او اوښتیا ) باندې راوچورلوله، دغه نوموني تردغه وخته وخته چا زموږدمعاصروادبیاتودتکاملي پړاوونوپه توګه نه لیکلي وي اونه زموږپه لیکنوکي دغه نوموني تراوسه هم په پراخه توګه دود شوې دي،په دې هیله چي په راوروسته کي به موږ د خپلواوسنیوهنري ادبیات،ادبي ارزښتونه اوادبي څیرې په همدغودریو پړاوونوکي څوندي اوددغونومونوله پاره به دپراخي کاروني علمي لاره چاره برابره شي.

ا‌خځونه:


۱ -احمدجان ، منشي، هغه دغه پیښور، اداره اشاعت،
۲ -الفت ګل پاچا ، غوره اشعار، کابل دولتی مطبعه، ۱۳۳۴
۳ -الفت ګل پاچا، د زړه وینا کابل دولتي مطبعه ۱۳۴۱
۴- افغان یاد ، دغلام محي الدین افغان دسیمناردمقالومجموعه، کابل ۱۳۶۰
۵- امان افغان (۱) ګڼه ۱۳۰۶ لمریز کال
۶ -امان افغان ۴۹ – ۵۰ ګڼه
۷- انګار ملي جریده (۱) ګڼه ۱۳۲۹ کال.
۸ -بینوا عبدالروف ، ویښ زلمیان کابل ۱۳۲۶ کال.
۹ -براهني رضا ، طلا درمس تهران چاپ دوم کاویان ۱۳۴۷.
۱۰ -پادری هیوز ، کلید افغاني ، کابل دریم چاپ ، دولتي مطبعه ۱۳۵۶.
۱۱ -پښتوچاپي آثار، په دوو وروستیوپیړیوکي دپښتوچاپي آثارد سیمینارد‌مقالومجموعه ، ۱۳۵۶.
۱۲ -تره کی نورمحمد، دبنګ مسافري، کابل ۱۳۵۷.
۱۳ -تاریخ معاصر افغانستان ازاسترداد استقلال تا انقلاب ثور، کابل دولتي مطبعه ۱۳۶۲.
۱۴ -جم . ډارمستټر د پښتونخوا شعرهاروبهار کابل دریم چاپ ۱۳۵۶.
۱۵ -جاویدان مریم ، درباره هنروادبیات ، کابل ګوندي مطبعه ۱۳۶۴،
۱۶ -حبیب اسدالله راه ګورکي درهنرو زندګی ژوندون (۴) ګڼه ۱۳۶۲.
۱۷ -حبیبي عبدالحی ، جنبش مشروطیت درافغانستان کابل دولتي مطبعه ۱۳۶۳.
۱۸ -ح .مدیرحلاج ،تاریخ مشروطیت – نهضت ایران تهران چاپ ؟
۱۹ -ختک اجمل د وخت چغه کابل ، دولتي مطبعه ۱۳۵۶.
۲۰ -ختک اجمل ، ګلونه تکلونه ، کابل ۱۳۶۲.
۲۱- خلق اوونیزه (۱) (۲) ګڼه ۱۳۴۵.
۲۲ -دلیپ کمار ګوش ، انګلستان وافغانستان ، دیوهاند میرحسین شاه ژباړه، کابل ۱۳۶۳ ګستنتر.
۲۳ -دورن منتخبات ، کابل ۱۳۵۷.
۲۴- رشتین صدیق الله د پښتوادب تاریخ ، کابل ۱۳۳۲.
۲۵ -روهي محمد صدیق ، دماسترې دورئ له پاره لکچرونه کابل پوهنتون ۱۳۶۳.
۲۶ -روهي محمد صدیق ادبي څیرني کابل ۱۳۶۰.
۲۷- پیوند علي ګل زړه ډمه کابل ، دولتي مطبعه ۱۳۵۸.
۲۸ -زیری اوونیزه ۱۳۶۴کال ۱۳- ۱۴- ۱۵ ګڼي.
۲۹ -سراج الا خبار د ۱۲۹۶ – ۱۲۹۷ کلونو کلکسیونونه.
۳۰ -سائل رحمت شاه ، دلمبو په سوري کي ، پیښور ۱۹۸۵.
۳۱ -شینواری دوست، تولنوال ریالیزم ... ژوندون مجله (۱) ګڼه ۱۳۶۳ کال.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

٣٢ -طرزي، محمود مقالات كابل دولتي مطبعه ١٣٥۶.
٣٣ -طبری احسان برخی بررسيها درباره جهانبيني ها وجنبش های اجتماعي درايران كابل ١٣۶١.
٣۴- صافی مفتاح الدين ادبي اوهنري څيرنې ١٣۶٣.
٣۵ -صافی مفتاح الدين د نړيوالو سندرې ، كابل ١٣۶٣.
٣۶ -صوفي جمعه خان ، ديدی كوتاه به پشتونهای آنسوی مرز ، دسرغندوی ژباړه كابل دقبايلووزارت ١٣۶٣.
٣٧ -صابر ميرزايف ادبيات معاصر دری افغانستان (٢) برخه كابل پوهنتون ١٣۶۴.
٣٨ -غبدالغفارخان ( پاچا خان) زما ژوند اوجدوجهد كابل دولتي مطبعه ١٣۶٢.
٣٩ -عطاالله خان قاضي ، د پښتنوتاريخ (١) ټوک كابل د دفاع وزارت مطبعه ١٣۵۶.
۴٠ -غبار غلام محمد افغانستان درمسيرتاريخ، كابل ١٣۴۶.
۴١ -فلسفي دكشنري د مسكوچا پ ١٩۶٧ كال.
۴٢ -كابل مجله (١٢) ګڼه ١٣١٨ كال.
۴٣ -كابل مجله (۶) ګڼه ١٣۴١ كال.
۴۴ -كابل مجله ( ١) ګڼه ١٣۶٣ كال.
۴۵ -كابل مجله (٧) ګڼه ١٣٣٩ كال.
۴۶- ګوركي ماكسم ، مور مسكو، كال ؟
۴٧ لنين د آسيا بيداري ، مسكو ، كال ؟
۴٨ -لايق سليمان چونغر دويم چاپ كابل ګوندي مطبعه ١٣۶١.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ